ليکوال:هاري تاريخ ۳۰/۰۸/۲۰۰۹

# له انتخاباتو را وروسته

د نيويارک ټايمز اخبار د اګست پر ۲۹ مه د افغانستان انتخاباتي رسوايي په باب سرمقاله ليکي ده چي د افغانستان په ارتباط د امريکا د خلکو او مطبوعاتو زياتېدونکي اندېښني ښيي. د سر مقالې هدف دا دی چي جمهورريس اوباما ته د افغان جنګ د لا پراخولو په اړه خبرداری ورکړي. سرمقاله په عمومي توګه په افغانستان کي د امريکا زياته مداخله او پاته کېدل د امريکا د ګټو لپاره زيانمني ګڼي. د افغانستان له باتلاقه ځان ساتل، د راوتلو لپاره يوه چاره برابرول، او په افغانستان کي په احتياط او سوچ قدم اېښودل د امريکايي مطبوعاتو عمده ټکي جوړوي. د نيويارک ټايمز ورځپاڼه که څه هم په عمومي توګه د ښاغلي اوباما دداخلي او خارجي پاليسيو ملاتړ کوي، خو پدې وروستيو وختونو کي په زياتېدونکې توګه د افغانستان پروژې ته د شک په سترګه ګوري، او پدې هکله جمهورريس اوباما ته پرله پسې خبرداری ورکوي. د افغانستان په باب د نيويارک ټايمز د انټرنټي سوال او جواب او بحثونو په ويبلاګونو کي زياترو ګډون کونکو په افغانستان کي د برتانيې او شوروي ترخو تجربو او ناکامو مداخلو ته اشارې کوي، او اکثرو ليکوالانو د اوباما حکومت ته خبرداری ورکوی چي افغانستان بايد په احتياط سمبال کړي. په لاندې سرمقالې کي چي پوره ژباړل سوې ده، د امريکا په جامعې او مطبوعاتو کي د عامه افکارو د عمومي جهت ښکارندوی دی.

پنځه مياشتي پخوا جمهورريس اوباما د افغانستان په ارتباط خپله نوې تګلاره اعلان کړه. هغه ژمنه وکړه چي زياته پانګه به پر ملکي او غير نظامي پروګرامونو باندي اچوي، خو دمګړی امريکايي قومندانان پداسي وخت کي د نورو اضافه عسکرو غوښتنه کوي چي د طالبانو او القاعدې پر خلاف جنګ په زياتېدونکی توګه ګران او اوږدېږي.

د متحده اياالاتو د پوځ لوی درستيز، مايک ملون، وايي حالات « خطرناکه او مخ پر خرابېدو دي.» لدې څرګندوني څخه څو ورځې را وروسته، څلور امريکايي عسکر د سړک د غاړي بم ووژل. پدې ترتيب، د امريکايي او ناټو عسکرو لپاره ۲۰۰۹ تر ټولو مرګانی کال سو؛ ځکه نو اوس د عامه افکارو وروستي نتايج چي د اته کلن جنګ سره دامريکايانو زياتېدونکی مخالفت ښيي د فهم وړ دی. په عراق او افغانستان کي، متحده اياالاتو د څه د پاسه ۵۰۰۰ عسکر قرباني او څه د پاسه ۹۰۰ بيلونه ډالره لګوي دي.

د ښاغلي اوباما فيصله چي له عراقه يې افغانستان او پاکستان ته توجه زياته کړې ده، سمه او معقوله ده. پاکستان يو جدی خطر دی. پاکستان داخلي قومي شخړي لري، خو تر ټنګ يې څه د پاسه ۶۰ ذره وي وسلې هم لري. پاکستان د طالبانو او القاعدې اصلي اډه ده. خو لدې سره سره يو حياتي سوال بايد مطرح سي او هغه داچي ايا په هغه سيمه کي هر ځای پانګه اچول په رشتيا د متحده اياالاتو د امنيتي اهدافو لپاره ضروري دي؟ د بش په دوران کي د عراق د جنګ په هکله ددغه بنيادي تحليل په باب چندان غور او سوچ نه کېده.

په افغانستان کي همدااوس څه د پاسه ۱۰۰۰۰۰ غربي عسکر پراته دي. له دريو څخه دوې برخي يې امريکايان دي، خو نورو اضافه عسکرو ته لا هم اړتيا سته. افغانستان ته د نورو عسکرو د استولو پر تصميم باندي بايد سپينه مانۍ، کانګرس، او امريکايان ښه چورت ووهي. دوې اونۍ وروسته به جنرال مک کريسټل د جنګ په ارتباط خپله څېړنه او ملاحظات وړاندي کړي. که چيري ده نور عسکر غوښتل، هغه مجبوره دی چي دې سوال ته جواب ووايي چي څرنګه به نور عسکر د ښاغلي اوباما د « غښتلي، بهتري، او هر اړخېزي ستراتيژۍ په عملي کولو کي مرسته وکړي؟»

د ښاغلي اوباما تګلاره يوازي له ستراتيژيکي لارو، کوټلونو، او ښارونو څخه د طالبانو شړل نه ول، بلکي د اوباما په ژمنو کي دغه راز په کابل کي پر يومسول او باکفايته حکومت باندي ټينګار، د بزګرانوسره د مخدره موادو په راکمولو کي مرسته ، او د مسلکي پوليسو او پوځ رزول هم شامل ول. هغه مجبوره دی چي افغانستان ته زيات ملکي ماهران واستوي څو د افغاني حکومت استعداد او ظرفيت جګ سي، د بياودانولو لړۍ ګړندۍ سي، حکومت ښه او پاک سي، او د عدالت او قضا نظام جوړ سي. بل حياتي کار: د طالبانو سره يوې روغي جوړي ته رسېدل دي.

د کابل حکومت څخه د افغانانو عمومي بېزاري، په انتخابات کي نه ګډون، د طالبانو حملې او تهديدونه، او په انتخاباتو کي پراخي ټګي برګي شرايط لا خراب کړي دي. تر ټولو بده لا دا چي دواړه مخکښه کانديدان د افغانستان د پرابلومونو د حلولو لپاره واقعي پلانونه نلري.



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

داسي ښكاري چي جمهوررس حامد كرزی پر اصلي حريف باندي څه مخكی دی، خو د تقلب او جعل كاری الزامونه به خامخا هېواد د ډېر وخت لپاره بې ثباته وساتي. له پخوانيو بدنامو جنګسالارانو سره د حامد كرزي له شرارته ډک ايتلافونه د ملک د بياودانولو او ښې راتلونكې د جوړولو په لاره كي لوي خنډونه ايجاد كړي دي.

د متحده ايالاتو كانګرس پر ښاغلي اوباما باندي فشار اچولی دی چي تر راتلونكي پسرلي پوري په افغانستان كي پرمختګ وښيي، د اوباما حكومت تمه لرله چي انتخابات به په هېواد كي پرمختګ وښيي، او د نورو اضافه عسكرو او پيسو غوښتل به يوه معقوله فصيله وښيي. خو كه چيري انتخابات يو داسي حكومت رامينځته كړي چي حتی خپله افغانان يې هم نا مشروع وګڼي، بيا نو د اوباما د غوښتنو عملي كول ناممكنه كيږي.


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همكاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de